**اعتباري کارتونه او د هغو ګټې**

له اعتباري کارتونو یا کریډټ کارتونو څخه د نړۍ په ۱۴۰ بېلابېلو هېوادونو کې چې له درېیو میلیونو څخه ډېر د ( اې، ټي، ام او پي، او، اس) ماشینونه لري، ګټه اخیستل کېږي.

د اعتباري کارتونو ماشینونه د مالي لېږد په لومړۍ درجه کې ځای لري چې د نړیوالې سوداګرۍ په برخه کې یې پراخ پرمختګونه رامنځته کړي دي. دا مهال د نړۍ په کچه نږدې ۲.۸ میلیارد اعتباري کارتونه د ماسټر کارت، ویزا کارت، ډیسکور او امریکن ایکسپریس کمپنیو له لوري ویشل شوي دي چې د هرې ورځې په تېریدو سره د دغو کارتونو په شمېر کې زیاتوالی راځي.

د سوداګریزو راکړو او ورکړو پر مهال له اعتباري کارتونو ګټه اخیستل د پیسو له زړښت څخه مخنیوی کوي، پیسې د غلا او ورکیدو له خطره خوندي ساتي، په فزیکي ډول د پیسو لېږد را لېږد کموي او د نړۍ په هر ګوټ کې پیسو ته د لاسرسی شونتیا زیاتوي.

که څه هم په افغانستان کې په دې وروستیو کلونو کې له اعتباري کارتونو ګټه اخیستنه دود شوې ده او خلک ورو ورو د نغدو پیسو پر ځای اعتباري کارتونو ته مخه کوي، خو لا هم دا چاره زیات کار ته اړتیا لري او په کار ده چې په دې برخه کې لازم ګامونه پورته شي.

معلومات ښیي چې دا مهال په افغانستان کې ډېری سوداګریزې راکړې او ورکړې پر نغدو پیسو تر سره کېږي او دا لامل شوی دی چې د افغانیو بانکنوټونه ژر استهلاک ( زاړه او خراب) شي او په بازارونو کې زړې او له کاره لویدلې پیسې زیاتې شي.

د افغانستان بانک هر کال یوه زیاته کچه پیسې د زیات استهلاک او زړښت له کبله سوځوي او له منځه یې وړي چې دا چاره د هېواد پر اقتصادي وضعیت منفي اغېزه کوي او دا لامل شوی دی چې یاد بانک د سوځېدلو پیسو مطابق نوې پیسې چاپې کړي.

باید وویل شي چې د نویو بانکنوټونو چاپ زیات لګښت ته اړتیا لري او له دې لارې د نویو بانکنوټونو او کاغذي پیسو پر چاپ سره یوه زیاته کچه اسعار د دې بانک له زېرمو لګښت کېږي، خو که په هېواد کې له اعتباري کارتونو څخه ګټه اخیستنه زیاته شي او د پیسو ساتنې فرهنګ په ښه ډول دود شي، په دې سره به نه یوازې دا چې د نوو بانکنوټونو پر چاپ به د راتلونکي لګښت څخه مخنیوی وشي، بلکې په هېواد کې به د کاغذي پیسو له ژر زړښت څخه هم مخنیوی شوی وي.

په همدې ډول، د دې لپاره چې خلک د اعتبار کارتونو اخیستلو ته مخه وکړي لازمه ده چې د خلکو د هڅونې لپاره بانکونه یو شمېر داسې ورانديزونه وکړي چې پرمټ یې خلک دا کارتونه ترلاسه او په سوداګریزو چارو کې ترې ګټه پورته کړي. د بېلګې په توګه د اعتباری کارتونو لرونکو کسانو ته دې په پلورنځیو کې د یو یا څو سلنه کمښت او داسې نورې آسانتیاوې دې په پام کې ونیول شي.

اعتباري کارتونه ډېرې ګټې هم لري چې په لاندې ډول ورته اشاره کوو:

- ✓ پر نغدو پیسو له راکړې او ورکړې مخنیوی
- ✓ د پیسو له زړښت څخه مخنیوی
- ✓ د غلا له خطر څخه خوندیتوب
- ✓ په بانکونو کې د پیسو ساتنه
- ✓ د نړۍ په هر ګوټ کې بانکي حسابونو ته لاسرسی
- ✓ ۷/۲۴ کې د پیسو ته لاسرسی

حسیب الله نوري

سرچینې:

1 - What are the Four Major Credit Card Companies?
https://shiftprocessing.com/credit-card/#:~:text=70%25%20of%20the%20United%20States,dispatched%20among%20multiple%20different%20outlets.

2 - 10 Reasons to Use Your Credit Card/By AMY FONTINELLE/Reviewed By JANET BERRY-JOHNSON/ Updated May 27, 2020
https://www.investopedia.com/articles/pf/10/credit-card-debit-card.asp